مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۲۸

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (څلور شپیتمه برخه)

## تورن جنرال محمد عظیم

د محمد ایوب زوی په ۱۹۱۹ز کال کې په لغمان کې زیږیدلی دئ. په ۱۹۳۸ز کال کې د حربي علومو له پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۴۵ز کال کې هندوستان ته د لوړو زده کړو لپاره لاړ. په ۱۹۴۱ز کال کې د حربي پوهنتون اسیستانت. د مرکزي ځواکونو / قوای مرکز د دوهمي فرقي مرستیال بولندوی. په ۱۹۴۷ز کال کې د پیچ د دري ولسوال. په ۱۹۴۸ز کال کې د دفاع د وزارت د تعلیم او تربیې عمومي مدیر. په ۱۹۴۹ز کال کې د استحکاماتو بولندوی. په ۱۹۵۰ز کال کې د حربي پوهنتون د حربي علومو بولندوی. په ۱۹۵۳ز کال کې د قوای کار بولندوی. په ۱۹۵۴ز کال کې په جرمني کې د انجنیری په پروګرام کې شامل سو. په ۱۹۵۷ز کال کې تورکیې ته لاړ. په ۱۹۵۸ز کال کې د تولګټو یا فواید عامې د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۵۸ز کال کې ئـې د ډګروالی رتبې ته ارتقاء وکړه. په ۱۹۵۹ز کال کې ئـې د شوروي اتحاد په اشتراکي سوسیالیستي جماهیرو کې پوځي روزنیز کورسونه ونیول. په ۱۹۶۱ز کال کې ئـې د جنرالی رتبې ته ارتقاء وکړه. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د تولګټو وزارت وزیر. په ۱۹۶۴ز کال کې دوه ستوریز جنرال سو. په ۱۹۶۷ز کال کې د پکتیا د وسله والو ځواکونو بولندوی او د پکتیا والي. په ۱۹۷۶ز کال کې د ملي دفاع د وزارت سرمفتش. په ۱۹۷۴ز کال کې دري ستوریز جنرال سو. په ۱۹۷۵ز کال کې د کندهار د قول اردو مرستیال بولندوی. مډالونه : د ورتیا ۴ مډالونه، رښتین، بریالی، مینه پال او د ستور- لومړی درجه مډال. مورنی ژبه ئـې دري ده.

## محـمد عظیم

د منشي نذیر زوی. د نجات د ښوونځي ښوونکی. د برتانوي سفیر د وژلو هڅه ئـې وکړه، خو د سفیر پر ځای ئـې د سفارت دري تـنه کارکوونکي ووژل. داسي ښکاري چي محمد عظیم ویلي چي دی د سید کمال ملګری او پیرو دئ(هغـهٔ سید کمال چي په برلین کې ئـې د ولسمشر محـمد داؤود پلار وواژهٔ). ویل کـېږي چي دهٔ غوښتل . د ځوانو افغانانو او برتانویانو تر منځ یو جوړ جاړی را منځته کړي ځکه چي ګنګوسي وې چي برتانویانو افغانستان په پټه تصاحب کړی دئ.. محـمد عظیم د ۱۹۳۳ز کال د سپتمبر د میاشتې په ۱۳ نـېټې اعدام سو. له دهٔ سره دغـهٔ کسان هم پرته له دې چي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

نومونه ئـي د محمد عظيم له کړنـي سره تړلي ياد سي اعدام سول : مـحمد ولي دروازي ,د درواز د سيمي بومي اوسـېدونکی وو؛ کله چي امان الله خان په ۱۹۲۸ز کال کي په سفر وو محمد ولي دروازي ددولت کفيل وو؛ شير مـحمد، سردار هدايت الله، محمد مهدي، فقير احمد او غلام جيلاني چرخي.

## محمد عزيز

د ۱۹۸۴ز کال د جولای په مياشت کي د خفيفه صنايعو او خوراکي توکو وزير. د ۱۹۸۶ز کال د جولای په مياشت کي د وزيرانو د شوری مرستيال رئيس. د دولتي پلان جوړوني د کمېټي رئيس.

## سردار محمد عزيز

محمد زی. په ۱۸۷۷ز کال کي زېږېدلی دئ؛ د سردار يوسف خان زوی او د اعليحضرت نادر شاه ناسکه ورور. د امير حبيب الله خان د خصوصي منشي يا سکرتر په توگه مقرر سو او په دې توگه ئـي په ۱۹۰۷ز کال کي هندوستان ته د امير حبيب الله خان مشايعت وکړ. د حبيب الله خان د واکمنی په وروستيو کلونو کي سردار محمد عزيز د باندنيو چارو په وزارت کي د سکرتر په توگه مقرر سو خو کله چي امير امان الله خان د سلطنت پر تخت جلوس وکړ دی بې کاره سو. د ۱۹۲۰ز کال د آگست په مياشت کي په کابل کي د مهاجرينو د کمېټي د رئيس په توگه وگومارل سو؛ د ۱۹۲۰ز کال د اکتوبر په مياشت کي د تحصيل لپاره اورپا ته د تلونکو محصلينو د لړی مسؤول او ۱۹۲۶ز کال د اگست تر مياشتي پورې ورسره پاتي سو؛ نوموړی په همدې نېټي له محصلينو سره د رخصتی لپاره کابل ته راغی او ورسره سم له دې دندې څخه بې کاره سو. له خپل ناسکه ورور نادر خان سره په اروپا کي يو ځای سو او د ۱۹۲۹ز کال تر پايه پورې په اروپا کي پاتي سو او په همدې وخت کې په مسکو کي سفير وگومارل سو. بيا په برلين کي افغان سفير وگومارل سو؛ دی برلين ته د ۱۹۳۳ز کال د مارچ په ۲۳ نېټي ورسېد. د ۱۹۳۳ز کال د جون د مياشتي په ۶ نېټي سردار محمد عزيز په برلين کي د سيد کمال په لاس ووژل سو. محمد عزيز د افغانستان د جمهوريت د ولسمشر سردار محمد داؤود او د محمد نعيم پلار وو.

# سردار محمد داؤود

د ٍ اعليحضرت نادر شاه د ناسکه ورور ٍ سردار محمد عزيز زوی په ۱۹۰۹ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. په کابل کي ئـي د امانيه په ښوونځي کي زده کړې کړي دي. ۹ کاله ئـي فرانسه کي تېر کړل ,پلار ئـي دا مهال د محصلينو د چارو مسؤول وو او اکا ئـي نادر خان په پاريس کي سفير وو, او د ۱۹۳۰ز په اکتوبر کي کابل ته راستون سو. په ۱۹۳۱ز کال کي ئـي د پلي ځواک د افسرانو د ښوونځي په يو کلن کورس کي گډون وکړ. د ۱۹۳۲ز کال د نوامبر په مياشت کي ئـي د تورن جنرال يا د فرقه مشر رتبې ته ارتقا وکړه او د مشرقي ولايتونو د ځواکونو د عمومي بولندوی په توگه وټاکل سو. د ۱۹۳۴ز کال د فبروری په مياشت کي ئــي د مشرقي د ځواکونو د بولني تر څنگ د مشرقي د والي دنده هم ومنله. په ۱۹۳۴ز کال کي د پخواني پادشاه محمد نادر له کشری لور شهزادگی زينب سره وادهٔ وکړ. د ۱۹۳۵ز کال د جولای په مياشت کي کندهار ته د والي او د دې ځای د ځواکونو د عمومي لوی افسر او عمومي بولندوی په توگه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

ولېږل سو. د فراه او چخانسور د فرقو عمومي بولندوی. په کندهار کي ئـي دا هڅونه پیل کړه چي پښتو دې د یوازینی ملي ژبې په توګه ومنل سي. له ۱۹۳۹تر ۱۹۴۷از کال پورې د قوای مرکز عمومي بولندوی. په ۱۹۴۵از کال کي ئـي د صافیانو بلوا وځپله. په ۱۹۴۷از کال کي ددفاع وزیر خو ویل کېږي چي له صدر اعظم شاه محمود سره موافق نـهٔ وو. له همدې کبله ول چي له ۱۹۴۸ تر ۱۹۴۹از کال پورې ئـي پاریس ته د سفیر په توګه ولېږهٔ. له ۱۹۴۹- ۱۹۵۰از کال پورې د کورنیو چارو وزیر او ورسره هم مهاله د قبائیلو د چارو رئیس. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۳از کال پورې د افغانستان صدراعظم. په ۱۹۵۹از کال کي ئـي د ښځود د چادري د رفع کولو له خوځښت څخه ملاتړ وکړ او دا خوځښت ئـي وهڅاوهٔ. په ۱۹۶۱از کال د سپتمبر په میاشت کي ئـي د غیر منسلکو هېوادونو د بلګراد په غونډې کي د افغانستان استازیتوب وکړ. داؤود خان د ۱۹۵۶- ۱۹۶۱از لومړنی پینځه کلن پرمختیایي پلان تصویب کړ او د همدې پلان په نتیجه کي یو ئـي د کریر سوبو لویو لارو جوړول ول. په ۱۹۶۳از کال کي ئـي استعفی ورکړه.د پښتونستان د سیاست سرلاری او پلوی، او ویل کېږي چي د ۱۹۶۴از کال د اساسي قانون له ۲۴ مادې او نورو موادو سره مخالف وو. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۷۳از کال پورې په کور ناست وو. د ۱۹۷۳از کال کي د جولای په میاشت کي ئـي د سلطنت پر ضد له کودتا وروسته د افغانستان جمهوریت اعلان کړ. له ۱۹۷۵از کال راوروسته خپل مارکسیست ملاتړي ئـي په تدریج سره له دولتي مقاماتو لېرې کړل. هڅه ئـي وکړه چي د خپل په لاس جوړ سوي، ملي انقلاب ګوند، پر بنسټ یو ګوندیز بنسټ رامنځته کړي. لویه جرګه ئـي راوبلله او ددهٔ اساسي قانون ئـي تصویب کړ. د ۱۹۷۸از کال د اپریل د میاشتي په ۲۷ نېټي د مارکسیستانو د واکمن کېدلو په لړ کي ووژل سو.

## محمد اسحٰق

د محمد قاسم زوی په ۱۹۵۲از کال کي په پنجشیر کي زېږېدلی دئ. لومړنی او منځنی زده کړې ئـي په پنجشیر کي بشپړې کړي او ورپسي د کابل د تکنالوژئ په انستیتیوت کي شامل او د کابل پوهنتون د انجنیری له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د کابل پوهنتون د ‹جوانان مسلمان› د غورځنګ غړی. په ۱۹۷۵از کال کي ئـي له بولندوی مسعود او نورو سره د محمد داؤود پر ضد د کودتا هڅه وکړه. په ۱۹۷۵از کال کي له هېواده دباندې وتښتېد. په ۱۹۷۹از کال کي بېرته پنجشیر ته راستون سو او د مسعود تر څنګ وجنګېد. په دري ژبه ئـي د «ندای جهاد» ورځپاڼه خپره کړه. په ۱۹۸۱از کال کي ‹دننه په افغانستان کي› د ‹آزاد افغانستان د راډیو› لومړنی رئیس. له ۱۹۸۲از کال راهیسي د بولندوی مسعود لپاره د نشراتو مسؤول، باندنیو هېوادونو ته ډېر سفرونه کوي او ویناوې کوي. ‹په جمعیت اسلامي› کي سیاسي افسر. په افغانستان کي د جګړې د حالت په هکله ئـي ګڼ شمېر مقالي خپرې کړي.

## محمد فاروق

د مرکزي کمېټي غړی. د کورنیو چار د وزارت د سیاسي چارو رئیس. د سرحدي ځواکونو بولندوی

## پوهاند محمد فاضل

د جنرال محمد صدیق زوی په ۱۹۲۲از کال کي د پروان په دِهٔ قاضي کي زېږېدلی دئ.‹جنرال محمد صدیق : د حبیب الله کلکاني د دفاع وزیر› د صاحبزادګانو له کورنۍ څخه ‹د حبیب الله کلکاني د دربار د وزیر شیرجان او د عطاء الحق ورور›. لیسانس ئـي د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه تر لاسه کړ؛ او ماستري ئـي په ښوونیزې او روزنیزې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

روان پېژندني/ روان شناسي تعليمي و تربيتي، کي د کولمبيا د پوهنتون د ښوونکو له کالج څخه واخيسته. په ګڼ شمېر ښوونځيو کي ښوونکی او مدير. د بدخشان د ولايت د معارف د رياست رئيس. له يونسکو څخه ئې يو کلن فيلوشيپ تر لاسه کړ چي په مصر، هند او ترکيې کي روزنه وويني. د کابل پوهنتون د ښووني او روزني د پوهنځي د کارمندانو غړی. د کابل پوهنتون د ښووني او روزني ډايرکټر. د ښووني او روزني د انستيتيوت رئيس. په ۱۹۷۰ز کال کي د معارف د وزارت دوهم مرستيال وزير. د کابل پوهنتون د ښووني او روزني د پوهنځي پوهاند. د معارف په ډګر کي د ګڼ شمېر آثارو ليکوال. مورنی ژبه ئې دري ده. له ۱۹۸۲ز کال راهيسي له خپلي کورنۍ سره په پاريس کي اوسېږي.

**نور بيا**

## محمد غوث

سردارِ اعلی، نائب سالار، جنرال، پوپلزی. د ۱۸۷۲ز کال په شاوخوا کي...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ